# تشدد پسندي، اسباب او مخنيوے

(د تشدد پسندۍ په حواله JMUF په کانفرنس کښې د هاشم بابر وېنا)

باچاخان ريسرچ سنټر

د بدقسمتۍ نه تشدد نن سبا يوه بين الاقوامي مسئله جوړه شوې ده. تشدد نن سبا په يو منظمه طريقه چلولې شي او د دې په ذريعه ملک کښې مختلف شدت پسند ګروپونه پېدا کولې کيږي او د دې غټ مقصد په ملک کښې د ننه Proxy war شروع کول دي. د دهشت يو بل غټ او اهم مقصد دا هم دے چې د عوامو ترمنځۀ اختلافات پېدا کړے شي او د دوي اجتماعي طاقت کمزورے کړے شي.

په عالمي سطح د تشدد شروع د نن نه **30** کاله وړاندې هغه وخت شروع شوه کله چې روس په افغانستان قبضه وکړه. دغه دوران کښې د افغانانو او د دنيا نورو مسلمانانو مذهبي جذبات ئې د جهاد په نوم استعمال کړل. مسلمانانو ځوانانو کښې د جهاد جذبه پېدا کولو دپاره د پاکستان قبائلي علاقو کښې چرته چې ډېر پښتانۀ وسيږي په ګڼ شمېر مدرسې جوړې کړې شوې. د جهاد دپاره د ډېرو غريبو کورنو نه په زرګونو هلکان واخستل د چا مور پلار چې دوي تعليم يافته ليدل غوښتل خو د جديد علومو حاصلېدو دپاره ئې د دوي فيسونه نۀ شو برداشت کولے. د دغې او نورو ضرورياتو پوره کولو دپاره دغه مدرسو کښې هر قسمه بنيادي سهوليات دوي ته ورکړے شول چې په نورو سکولونو کښې دوي ته نۀ شي ورکولے. اوس خو روس د افغانستان نه ووتلو خو بيا هم د دغه مدرسو تعداد د کمېدو په ځائے ورځ په ورځ زياتېږي.



د افغان جنګ دوران کښې امريکې او مغربي طاقتونو يوه غټه غلطي دا وکړه چې هغوي د افغان جنګ له د مذهبي جنګ نوم ورکړو. په افغانستان د روس حملې امريکې پاليسي جوړونکي دومره وځورول چې هغوي به راتلونکي وخت کښې د اسلام په نوم د تشدد خطره صحيح طريقې سره محسوس نۀ کړه، کومې چې ټوله جنوبي ايشياء په خپله ولقه کښې واخسته.

زمونږ قبائلي ايجنسيانې چې د افغانستان د سرحدونو سره لګې د هغوي د ژوند تېرولو طور طريقې او معاشرتي ماحول د عسکريت پسندو د تربيت دپاره ډېر موزون ؤ چې د تشدد پيدا کولو يوه غټه وجه وګرځېده. دغې علاقه کښې نۀ يواځې د دغه علاقې خلق اوسېدل او په تشدد کښې يې

حصه اخسته بلکې د عربو او نورو بهرنو ملکونو نه تش په نوم افغان جهاد له راتلونکو خلقو هم دې قبائلي علاقو کښې پناه اخستې ده

زما ورونړو او خوېندو! مذهب د يو کس ذاتي سوچ نۀ وي کۀ داسې وے نو د هر کس به په انفرادي توګه خپل عقايد وے. مونږ په خپلو کورونو کښې د مذهب يو شان عقايد منلي دي. په يوه معاشره کښې مذهب د يو رنګ مذهبي دستورونو نمانځلو او د اجتماعي عقيدې نوم دے. داسې معاشرې هم شته چې مختلف مذهبي عقايد لرونکي خلق لري خو هغوي بيا هم د يو بل مذهب، عقيدې او دستورونه برداشت کوي او دغه اصول په ټولو مذهبونو کښې يو شان دي. دا تسليم کړے شوي اصول دي چې رياست به يوې خاصې عقيدې له اهميت نۀ ورکوي، تاريخ ګواه دے چې کله هم يو رياست يوې خاصې عقيدې ته اهميت ورکړے او هغه يې په عوامو په زبردستۍ نافذ کړې ده نو دا په عوامو د ظلم مترادف ده. مذهبي برداشت چې د سيکولرم غټ اصول دے د هغې اهميت هم هغه وخت ختم شي کله چې رياست خپل ځان بچ کولو د پاره په مذهب تکيه وکړي.

د مدرسو نه چې کومه عسکريت پسندي او تشدد راوچته شوه د هغې نه لر او بر پښتانۀ ډېر متاثره شول. نن سبا پښتانۀ خپل مينځ کښې خانه جنګۍ سره مخامخ دي. د هغې غټه وجه زمونږ په اووۀ قبائلي ايجنسۍ چې فاټا ورته وئيلے شي همېشه پسمانده پاتې شوي دي او د پېرنګي د جوړ کړي تور قانون FCR ماتحت دي. فاټا کښې مسلسل د قانون او عدالتي اصلاحاتو نه د محرومۍ په وجه طالبانو خپل جوړ کړے قانون نافذ کړو. صدر د ګورنر په ذريعه په دې علاقو حکومت کوي د کومې په وجه چې په دې علاقو کښې د سياسي پارټو په اقداماتو کولو پابندي لګولې شوې ده. پښتونخوا او د قبائلي علاقو ترمنځه د نسلي او علاقائي مماثلت باوجود د صوبائي حکومت دغه علاقو کښې هيڅ قسمه سياسي او انتظامي کردار نشته.

د فاټا عوامو ته د روزګار ډېرې کمې موقعې په لاس ورځي. د دې علاقې صرف **7** فيصده زمکه د کر کرونديې قابله ده. د پاکستان د نورو علاقو مقابله کښې فاټا کښې د غربت شرح زياته ده. دغه رنګ د صحت او تعليم لحاظ سره هم دا علاقه ډېره وروستو پاتې ده. د پاکستان شرح خواندګي **43.92** فيصده ده خو په فاټا کښې دغه شرح **17.42** ده چې ډېره کمه ده. په پاکستان کښې د ښځو شرح خواندګي **32.02** فيصده ده او فاټا کښې دغه شرح **3** فيصده ده، چې انتهايي کمه ده. په فاټا کښې د حکومت له طرفه د جوړو شوو سکولونو شمېر د مدرسو په مقابله کښې ډېر کم دے ځکه چې د مدرسو شمېر په علاقه



کښې په زړګونو دے چې زده کوونکو ته مفت تعلیم او نور سهولتونه ورکوي.

کۀ د قبائلي علاقو نه تشدد ختمه کړے شي نو بیا پکار دي چې د دې سیمو دروازې د عالمي ورورولۍ دپاره پرانستے شي چې هغوي دلته د اقتصادي ودې، جدید تعلیم او صحت دپاره دپاره کار وکړي. مونږ ته دې علاقه کښې کارخانې لګول پکار دي چې مقامي خلقو ته د روزګا موقعې په لاس ورشي. اووۀ واړه ایجنسیانې دې د یو نظام د لاندې راوستے شي ځکه چې نن سبا چې یو کس د یوې ایجنسۍ نه بلې ته ځي نو اول پښنور ته راځي بیا بلې ایجنسۍ ته ځي. پولټیکل پارټیز ایکټ او د عدالتونو دایره اختیار دې قبائلي علاقو پورې خور کړے شي. موجوده ایف سي آر قانون کښې دې د انصاف او بنیادي انساني حقونو مطابق ترامیم وکړے شي.

دا یوه غټه منصوبه ده او د دې دپاره په اربونو ډالر پکار دي او په دې لړ کښې دې ورلډ کمیونټي خپل کردار ادا کړي چې دا علاقه او ټوله دنیا د راتلونکي خطرې نه بچ کړے شي. په دې حقله مونږ د ټولې دنیا د ملګرو سره مخلص (Sincere) یو. د تشدد ختمولو دپاره وړومبے کوشش دا پکار دے چې د قبائلي علاقو د ماشومانو د لاسونو نه ټوپک واخلو او قلم ورکړو. د خودکش جېکټ په ځائے ورته د سکول یونیفارم واچوو او د هغۀ د اوږې نه مېزائیل کوز کړو او د هغې په ځائے د کتابونو بسته ور په اوږه کړو. زمونږ لوئے واړه، نر او ښځې باعزته ژوند تېرول غواړي. مهرباني وکړئ دوي د تشدد د لعنت نه وساتئ. کۀ مونږ غواړو چې د عوامو ترمنځه د تشدد خلاف شعور پېدا کړو نو مونږ له پکار دي چې وړومبے قدم د قبائلي علاقو نه واخلو چرته چې دغه کسانو ته د تشدد ټرېننګ ورکولے شي.

د تشدد حوالې سره افغانستان او پاکستان په امن معاهده په Joint Peace Jirga Declaration دستخط وکړو چې د افغانستان دارالخلافه کابل کښې د 9 اګست نه تر 12 اګست پورې منعقده شوې وه. دا امن معاهده د امریکې د صدر په مرسته او موجودګۍ کښې وشوه. دواړه ملکونه په شپږو نکاتو متفق شو هغه نکات دا دي:

- دواړه ملکونه به دهشت ګردو ته تربیتي مرکزونه نۀ ورکوي.
- د منشیاتو کاروبار به د تشدد نه بېلولے شي او د دواړو خلاف به یوه اجتماعي حکمت عملي تیاره کړې شي.
- 5 ورکنګ کمېټۍ به جوړې کړې شي 25 ممبران به پکښې وي. دا کمېټۍ به Progress ګوري. په دې حقله به دوي مخصوص وخت نه پس مېټنګونه کوي او د راتلونکې Joint Jirga کېدو کښې به مدد کوي.

د دې نه علاوه په دې معاهده کښې د دواړو ملکونو ترمنځه په اقتصادي، معاشرتي او کلتوري تعاون زور ورکړے شو.

عوامي نېشنل پارټي دا معاهده د تشدد ختمېدو کښې یوه غټه کامیابي ګڼي او د Proposal هم لري چې د دې په حقله دې په قومي اسمبلۍ کښې یو قرارداد وړاندې کړے شي.

(هاشم بابر د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي ایډېشنل جنرل سیکرټري دے)